AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالستار ایوبی

۲۰۱۹/۰۶/۲۴

# صلحه او د شوپرک شخصي ګټي

## لمړی برخه

ویل کیږي چي ډیر پخوا کله چي حضرت آدم علیه سلام او بي بي هوا علیه سلام ځمکي ته تازه راشوه سوي وه، دلته د حیواناتو او مرغانو پاچاهي وه. دا دوه ټبره به تل یو د بل سره په جګړه کي وه، څو یو له بله د ځمکي تولي برخي ونیسي. دا جګړي به کله کله ډیري اوږد مهاله سوي او د مرغانو او حیوانانو لپاره به یې ډول ډول غمیزي زیږولي. یو ځل مرغان د یوه تکړه باز د مشري لاندي سره متحد سول، د رهبري د صفوفو څخه یې لټ میراثخواره لیري کړل، کار یې اهل کار ته د قابلیت په اساس وسپاره او ټوله ځمکه یې د حیوانانو څخه ونیول. د ستري سوبي وروسته د مرغانو د مختلفو فرعي ټبرونو مشران په دربار کي راټول وه څو هر یو د خپل ټبر لپاره مناسبتره ټوټه وغواړي او د جایدادونو په ویش کي شاته پاته نه سي. په دې زوږ کي نابېره یو ناولده بد ډوله ږغ ورګډ سو. د مرغانو مشرانو چي سره وکتل شوپرک خپله توره چینه په لاسو سره راټولوي او راروان دی. ټپلي او ټمبي یې جوړي کړي دي. د واکمن باز د ستاینې شعارونه په غوړماله لهجه زمزمه کوي، مرغان د مخي څخه ټیله کوي او ځان د واکمن باز مخي ته رسوي. شوپرک چي تر دې مهاله نه دی نه یې اولاد چا د جګړې په ډګر کي لیدلی وو، اوس په غنیمت کي تر نورو غوښنه وندې غوښتونکی وو. شوپرک چي ځان یې تر نورو مرغانو اصیل مرغه ګڼه او دا دعوه یې هم لرل چي خدای پاک ج ته د مرغانو د نورو ټبرونو په پرتله ډیر زیات محبوب او نیژدې دی. دا چي مرغان د الله تعالیٰ ج مطیع او فرمانبرداره مخلوق وه، د شوپرک د دې دعوې د سپیناوي غوښتني او تحقیق جرائت یې نه کاوه او بې دلیله یې د ده درناوی کاوه. واکمن باز هم د شوپرک په درناوي کي د چا څخه پاته نه وو. شوپرک ته یې اختیار ورکړ چي هر ځای یې د ځان او اولاد لپاره خوښ وي هلته دي میشت سي. پاته ځمکه به د مرغانو په نورو ټبرونو کي وویشل سي. د روشن فکره او با احساسه مرغانو شوپرک نه خوښیدی. هغوی دا فکر کاوه چي شوپرک د حیواناتو سره هم بنې اړیکي لري او کله نا کله حیواناتو ته د مرغانو محرم معلومات هم ور وړي. دی که هګی اچوي او وزرونه لري، د دې تر څنګ تیان هم لري او خپلو نوزادو ته شیدې هم ورکوي، چي دا او یوشمېر نور اوصاف یې د حیوانانو دي. په دې حساب پر شوپرک باندې باید ډیر باور ونه سي. دا چي یو څو روشن فکره مرغانو شمېر لږ وو، بل شوپرک هغوئ پر تعصب او نژادي تبعیض هم تورنول. شوپرک او د هغه مریدانو به دا هم ویل چي دا روشن فکره او با احساسه مرغان د خدای پاک ج د لاري څخه لیري دي نو ځکه د خدای پاک ج مقربین یې د سترګو بنه نه ایسي. د شوپرک هم دا تبلیغات وه چي با احساسه مرغان یې د نورو مرغانو د نفرت وړ ګرزولي وه او چا یې سورنا ته غوږ نه نیوئ. د خدای پاک ج ورځي وې چي حیوانان د لوړي او تندي څخه په عذاب وه، په خپل منځ کي سره جرګه سول او وېویل چي خپلي دي بي اتفاقي و دې حال ته رارسولي یو. ناځوانه مرغانو ټوله ځمکه راڅخه ونیول. هغه سیمو ته هم موږ نه پریږدي چي د دوئ هیڅ پکار نه دي. که چیري پاچاهي بیرته ونه نیسو نو ډیر ژر به د ګور د چینجیو په شان له لوږي په خپل منځ کي سره وخورو او نسل به مو هم ورک سي. راځئ چي تر تولو قابله زمري تر مشري لاندي سره ملګري سو او د مرغانو څخه خپل حق وغواړو. شوپرک به باندي جرګه کړو چي د دې اوبچي پر مخ موږ هم حقداره یو. هغه سیمي چي ستاسو نه دي په کار هغه موږ ته را پریږدئ. که مرغانو حق ته غاړه اینښول خو بنه تر بنه که نه تر تدریجي مرګ د جګړې د ډګر مرګ ډیر غوره دی. هغه وو چي تول حیوانان د یوې واحدي قوماندې لاندي سره راغونډ سول او شوپرک ته یې خپل استاذي ورواستول چي مرغانو ته د دوئ پیغام ورسوي. شوپرک چي د مرغانو په قلمرو کي چرچي کولي، د ځانه سره فکر وکړ که مرغان حق ته غاړه کښیږدي او حیوانانو ته ونډه ورکړي نو جګړه به ختمه سي، د ځمکي جایداد به په عدالت او مساواتو سره وویشل سي بیا به نو مزد هغه چا ته ورکول کیږي چي کار کوي او خواری کاږي. بیا به دا زما او زما اهل وعیال دا ستر امتیازات، عیش و نوش به چیري وي، دوئ د دروښ عوایدو تول د اولي درجي لټان اموخته کړي دي خواري کښل ځان ته عیب ګڼي. شوپرک په داغه شپه ځان د حیواناتو واکمن زمري ته وروړساوه او ورته وې ویل چي دی حیوانان خپله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وينه او خپل کهول بولي. خپل تيان، سږمې او تيره غابښونه يې وربښکاره کړل چې زه پخپله حيوان يم. د مرغانو ښه ډېر غيبت يې هم ورته وکړ چې ډېر حريص دي. هيڅ کله به د حيونانو د حق و داعيې ته غاړه کښې نه ږدي. د مرغانو واکمن باز هم اوس د ده خبرو ته چنداني ارزښت نه ورکوي. البته که زمری ده ته تر مرغانو زيات امتيازات او ګټي ور ومني، دی حاضر دی چې په جګړه کي استخباراتي او سياسي مرستي ورسره وکړي، د مرغانو ځينو خاينو او رشوتخوره مشرانو سره به د ده روابط ورجوړ کړي او مرغانو ته به دا ووايي چې خدای پاک ج نور د دوئ طرفداره نه دی بلکه حيوانانو ته د ځمکي واکمني ورسپاري. دوئ به د حيونانو سره په جګړه کي ماته وخوري، ځکه جنګيدل او مقاومت ګټه نلري. زمري او مشاورينو يې د شوپرک خبره ومنل. حيونانو جګړه اعلان کړل. د مرغانو مشرانو او واکمن باز ته د شوپرک د ځينو مضرو کړنو خبرونه رسيدل، خو د کره شواهدو نه موجوديت او په عامو مرغانو کي د شوپرک د سپيڅلتيا د شهرت و پراخ نفوذ په سبب يې قاطع تصميم نه سوای نيولای. هغه وو چې حيواناتو د مرغانو ځخه ټوله قلمرو لاندي کړل او په خپلو ټبرو کي د جايدادونو د ويش په منظور سره راغونډ سول. هر يوه حيوان مشر هڅه کول چې خپل ټبر ته ښه سيمه بيله کړي چې په راتلونکي کي ښه سوکاله ژوند ولري. که ګوري شوپړ خپله توره چپنه په اوږو کړې راروان دی. زمري او د هغه مصاحبينويې ښه تود هرکلی وکړ او د ده لپاره يې ستر امتيازات اعلان کړل. دا چې شوپرک او د ده اولادونو په جګړه کي قربانئ نه وې ورکړي، په جګړه کي يې عملاً برخه هم نه وه اخيستې نو د ټولو حيواني مشرانو حسادت ورسره پيدا سو. دا چې په عامو حيواناتو کي د ستانه حيثيت خاوند وو نو چا په خوله اعتراض ونه کړ. هلته مرغانو چې د پاچاهي خوند يې په خوله سوی وو، ارام کښينه نستل. فوراً بيرته سره راغونډ سول او چرکي ګروپونه يې تشکيل کړل. هر ځای به يې پر حيوناتو حملې کولې. د حيوانانو پاچا نظامي مشاورين او امنيتي ځواکونه د مرغانو د بريدونو په مخنيوي کي پاته راغلل. عام حيوانان چې د محروميت خوند يې ليدلی وو، د مرغانو سره يې په زړه کي خواخوږي پيدا سوې وه. چون په جنګي ماحول کي يوازي د اعلی تريني طبقې مشرانو ته د سوء استفادې زمينه مساعده وه نور هم حيوانات د دې بېمعنا جګړې په تنګ وه او هم مرغان. د حيوانانو او مرغانو بااحساسه غړو يو له بله سره پټ روابط او ناستي پاستي پيل کړي وې. دې ليدنو او کتنو مرغان او حيونان د شوپرک د ناځوانيو ځخه خبر کړل چې د دوئ د خپل منځو شخړو تر منځ شوپرک ځومره ستري ګټي کوي. شوپرک چې د حيوانانو او مرغانو تر منځ يو برزخي مخلوق دی، کولای سوای چې د مرغانو او حيوانانو تر منځ يې مثبت رول لوبولی وای خو ده ناځوانه تل د خپلو شخصي ګټو لپاره د مرغانو او حيوانانو تر منځ شخړو او جګړو ته لمن وهله. حيوانان او مرغان يې کلی په کلی او کور په کور په دښمني سره اخته کړي وه. داسي منافق هيڅ کله د الله تعالی ج تقرب نه سي حاصلولای. بد کوي چې ځان ستانه بولي. هغه منافق مريدان او موتقدين چې يې په حيواناتو او مرغانو کي سته هغه هم د ښه کردار خاوندان نه دي. ايله لوچګان دي. دا وو چې با احساسه مرغانو او حيونانو په خپلو خپلو ټبرونو کي يو دبل په مقابل کي د زغم او وروروليي احساسات راوپارول. د ممکنه صلحيزه او فلاحي ګډ ژوند لپاره يې متوازن او عادلانه اصول او ضوابط وضع کړل او په عامو حيواناتو او مرغانو کي يې د هغه تشهير پيل کړ. کله چې د عامو حيواناتو او مرغانو اوسط سياسي او ټولنيز شعور لوړ سو، د جګړې اور مخ په سړيدو سو او دواړو خواوو په پټو سترګو د خپلو مشرانو د اوامرو منلو پر ځای د هغه د منتقي توب او ګټورتيا په هکله پوښتني پيل کړي او معادلي، مناسبتري طرحي يې ورته پيشنهادولې. يو د بل د غيبتونو او کرکه پارونکو ويناوو پر ځای د رسمي پروسو په رڼتيا او د ټولنيز عدالت پر ځرنګوالي خبري کېدلې. د دواړو خواوو مشرانو د اصلاحاتو د نفاذ بربنډ مخنيوی نه سوای کولای که نه د مشري حق يې د لاسه ورکاوه. دوئ اړ سول چې په خپل منځ کي سره کښيني او په منصفانه توګه د ځمکي سيمي د مرغانو او حيوانانو تر منځ وويشي او يو د بل حقوقو او خپلو تعهداتو ته درناوی وساتي. جګړه خوښي رهبران د انزوا خوا ته ولاړل او صلحه خوښي و اصلاح پاله رهبرانو تبارز پيدا کړ. شوپرک چې اوس د خپلو ګټو او امتيازاتو په غم کي ورک وو، تر ډيره پوري چوپه خوله ناست وو او په زړه کي يې د صلحي د هڅو د ناکامي ارزوګاني پاللې. ده د دواړو خواوو جګړه خوښو مشرانو ته هم پټي مشورې ورکولې څو د جګړې اور تود وساتل سي خو د جمهور د ارادې په وړاندي ټول بې وسه ښکاريدل. آخر هغه ورځ هم راورسيدل چې مرغان او حيوانان په يوه جرګه کي سره راټول وه او د ګډ ژوند د اصولو وروستي جزيات يې نهايي کول او سيمي يې سره ويشلې. په دې وخت کي شوپرک هم ځان په ورګډ کړ او مرغانو ته راغلئ چې د جايداد د ويش په نوملړ کي خپل نوم هم ثبت کړي. دا چې مرغانو ته محدوده ونډه وررسيدلې وه او ټولو ټبرونو د عادلانه ويش غوښتنه کول، ځمکي ډيري کمي وې. متخصصين په صلاح و مشورو کي وه چې ځنګه محدودې منابع په موثريت سره په ټولو مرغه ټبرو کي وويشي. مشرانو يې په ډېر درناوي د شوپرک اغا مبارک ځخه وغوښتل چې چون تيان لري او خپلو نوزادو ته شيدې ورکوي، ځکه حيوان دی. د حيوانانو په ټبر کي دي خپله ونډه وپلټي. شوپرک په زغاسته ځان د حيوانانو د جايدادونو د ويش کميسيون دفتر ته وررساوه ځو د حيوانانو د جايدادونو د ويش په نوملړ کي خپل نوم ثبت کړي. دا چې حيوانانو هم شوپرک ښه په رسمياتو پيژندلی وو، خوښ نه وه چې دې شيطان او مفتن برزخي مخلوق ته په خپل ګاونډ کي ځای ورکړي. معذرت يې ځني وغوښت. شايد هم داعلت وي چې نن شوپرک يا خو په تياره مغارو کي ورځې او شپې تيروي يا هم د انسان لخوا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پرېښول سوو کنډوالو کي. يواځي ماځيګر قضا وخت د خوراک لپاره دباندي په تلوار راوځي او بيرته ننوځي چې د ورځي حيوانانو او مرغانو خپل روزګار پای ته رسولی وي او د شپې مرغان او حيوانان لا راوتلي نه وي.

کيدای سي چې د شوپرک دا قصه هسي يوه افسانه وي خو هغه څه چې زمونږ په شاوخوا کي تيريږي، مونږ يې حسوو، وينو او اورو دا افسانه نه ده. په افغانستان، عراق، سوريه او لبيبيا کي امريکايي مداخلاتو ناورينونه وځيږول. چې هم د امريکا اولس ځني متضرره سو او هم د دې هيوادونو ولسونه. که دامريکا دا مداخلات د هغه نامنهاده طبعي قانون برخه وبولو چې هر پياوړی هر ضعيف خوري او هر پياوړی ولس د هر ضعيف ولس ثروتونه لوټي نو بايد امريکا په صفت د يوه ملت ډير ثروت د خپلو مفتوحه سيمو څخه خپل هيواد ته انتقال کړی وای او ولس يې تر پخوا ډير هوسا سوی وای. حال دا چې يوازي په افغانستان کي د امريکا مداخله چې د ۱۷۰۰ په شاوخوا کي د خواريکښه او مسلکي امريکايانو په شمول د ګران بيه تعميرونو دلاسه ورکولو په بيه پيل سوه چې په تعقيبي ډول يې بيليونونو ډالر او زرهاوو عسکر د دې جګړې خوراک سول او تر اوسه پوري يو سينټ ګټه يې د افغانستان څخه نه ده ليدلې.

په دې حساب ويلای سو چې د امريکا او افغانستان جګړه د دوو ملتونو جګړه نه ده بلکه د دواړو خواوو شوپرک وشمه مافيايي کړيو د ګټو جګړه ده چې اوبه خړوي او خپل کبان نيسي. دا چې د امريکا شوپرکان څوک دي، په هغه به خپله يو امريکايي ښه رڼا اچولای سي. مونږ خو چې څومره پوه سوي يو د غني و خليلزاد خسرګنۍ ده چې د افغانستان په هکله دوی ته پروګرامونه ورکوي او هغه پلي کيږي. تر کومه پوري چې د افغانستان لخوا د شوپرکانو خبره ده، د متفرقه لوياليسټانو (loyalists) تر څنګ چې په هر قوم او ټبر کي قرار لري درې عمده ډلي دي چې د رواني جګړې او پخوانيو جګړو څخه يې مفاد پورته کړی دی او پورته کوي يې. سترو ابرقدرتونو ته د جاسوسي کولو په مټ يې د جګړې دواړو اړخونو په عاليترينه رهبري کي تصميم نيونکي موقفونه اشغال کړي دي. ښه به دا وي چې دا مافياوي وپيژنو چې د تيرو ۷۰ کلونو راهيسي په هيواد کي د حکومتوالي چارو د بدنظمي مسئول دي او د خپلو فردي، فاميلي او مافيايي ګټو لپاره يې کله ډيکتاټوران او کله هم بهرني اشغالګر پر افغانانو باندي تپلي دي:

**۱. د ځينو ساداتو او قريشو په شمول د مجدديانو او ګيلانيانو د فاميلي پيرانو نيټورک:** دا ډله چې د امير حبيب الله خان د وژني څخه نيولې بيا د امير امان الله خان تر معزولي او سقاوي غميزي په رامنځ ته کولو کي يې نوم اخيستل کيږي تر ټولو بارزه مافيا ده چې د بهرنيو استخباراتو سره د افغانانو پر سرنوشت معاملې کوي او ډول ډول سياسي غميزي رامنځ ته کوي. د تاريخ په پاڼو کي مونږ دوی وينو چې د اسلام په نوم د يوه سيکولر امان الله خان د واک تخته ورنسکوروي او په مقابل کي د افغانانو سرنوشت د غل حبيب الله په نوم و يوه نه لوستی ته سپاري او و هغه ته د خادم دين رسول الله لقب ورکوي. بيرته هم دوئ د يوه بل سيکولر نادر خان لپاره خادم دين رسول الله په چل و ول راولي او د هغه په ښنو کي يې ورحلالوي. يو وار توپکيانو ته د خدای تعا لی ج په وړاندي د پاخه شفاعت دومره ستر ضمانت ورکوي چې هغوئ د هري ناروا ارتکاب بيغمه بيدړکه کوي. بيرته بيا د همدې ټوپکيانو د ځپلو لپاره طالبان پر شا ټکوي. کله چې طالبان واک ته رسيږي او د اصلاحاتو راوستلو هڅه کوي، همدوی بيرته د بهرنيو استخباراتو په مټ مخالفه جبهه ورته تقويه کوي او د دوئ په صفوفو کي ورګډ سوي خپل مريدان هڅوي چې د خپل موقف څخه د ظلم، نادودو او ناروااوو لپاره د استفادې د لاري ولس ځني متنفره کړي (په کندهار کي د حافظ مجيد، تور غني او ملابخت محمد کړني يې ژوندۍ بيلګه ده) . همدا مافيا ده چې هم طالبان د دوئ درناوی کوي او هم دولتي عناصر. د دوئ په سيمه کي د اربکيانو قومندان هم د خپل د سر د تضمين لپاره د دې مافيا د پيرانو او سيدانو لاسونه ورمچوي او طالب قومندان هم د دوئ د درګاه غلامان دی. دا ددوئ ډاډ دی چې د دواړو خواوو چارواکي د عام ولس په وړاندي هيڅ مسئوليت نه احساسوي او نه د ولس مرائت ساتي. همدا مافيا ده چې د تصرف بدمرغه او ملعونه عقيده يې د هيواد د اطرافي بيسيواده خلکو په مغزو کي ورپيچکاري کړې ده چې د دنيا انتظام الله تعالی ج د خپلو متصرفينو په لاس پر مخ بيايي چې د نړۍ يوه پاڼه لا د همدې متصرفينو د ارادې پرته نه ښوري. هر چارواکی د يوه متصرف تر حفاظت لاندي دی او تر څو چې د الله تعا لی امر وي تر هغه وخته پوري دا متصرف د هغه شخص بلاکيف ساتنه کوي. دوی حتا دا کافران هم د متصرفينو تر کنټرول لاندي بولي. د تصرف د عقيدې منفي اغيزه د يوه مسلمان پر عملي ژوند باندي دا ده چې انسان په خپل چاپيريال کي پيښېدونکې هره فاجعه او هر ظلم د الله تعالی خاص مصلحت بولي او دا احساسوي چې هر څه د الله تعالی ج په کنټرول کي دي، ده ته د څه کولو اړتيا نسته، د اصلاح لپاره د ده هره عملي هڅه به په الهي چارو کي د قصدي مداخلې په معنا وي او د ده يوازنيني مسئوليت دا دی چې وخوره، وڅيښه، رفع حاجت وکړه او د نسل تکثير چاري سنبهال کړه. د ټولني د اصلاح، دظالم د مخنيوي او عند الله مرستي لپاره داوطلبانه خدمت چې د الله ج د پيغمبرانو او د دوئ د مخلصو پيروپانو اساسي دنده ده، د هغه څخه مسلمانان په اغفال کي ساتي. هغه خلک چې قرآني ارشاداتو ته ترويج ورکوي او د دوئ ملايان او پيران د خدای پاک ج سره په خدايي کي نه شريکوي، هغوئ وهابيان بولي. دلته دا يادونه اړينه ده چې د عامو مسلمانانو په ګومان دوئ د وهابي اسطلاح تنها د سلفيانو/اهل حديثو لپاره کاروي. حال دا چې هغه مسلمانان چې د دې ناري فرقې څخه مطلق بيزاره دي او تنها د توحيد پر عقيده ټينګ ولاړ دي، دا ظالمان هغوی هم وهابيان بولي. دا مافيا پر بيسيواده اطرافي افغانانو باندي د خپل روحاني تسلط په مټ د بهرنيو کفري استخباراتي ادارو او دولتونو لپاره خاص ارزښت لري او تل اړيکي ورسره تودې ساتي. په روانه جګړه کي دا مافيا ده چې د طالبانو او دولت تر منځ يې د جګړې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

انډول برابر ساتلی دی. د تصرف بېمنتقه باطله عقیده ده چې عام افغانان یې د سیاست او حکومتوالي د چارو څخه بیتفاوته ساتلي دي او د سیاست ډګر دوئ ته چغالي دی. خلک د دوئ خبري په پټو سترګو مني. دا چې نن د ملي یو والي حکومت خپل هر ډول مشروعیت دلاسه ورکړی دی او بیا هم په بیغمه زړه د قدرت واګي په لاس کي خپل ظلمونه و فسادونه کوي او په افغانانو کي څوک یې مخي ته نه دریږي، د همدې مافیا برکت دی. د افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه د شخصي ملیشې کار اخلي او خلک بې محاکمې سره د ښځو ماشومانو او سپینږرو وژني. روانه جګړه چې په اولس او د جګړې دواړو طرفینو کي یې وینه یخی کړې ده، خو دا طبقه ده چې په کلیو او ښارونو کي خپلي ګټي کوي، بازار یې ګرم دی. دوی لکه د بعث څخه وړاندي وختونو قریش، چې نورو ټولو قبایلو خلک د خپلمنځو دښمنیو او جګړو لکه کبله په خپلو خپلو سیمو کي نظر بنده وه خو قریش د حرم شریف د متولیانو په صفت ازادانه تر لیري لیري ځایونو پوري بیغمه تلل، خپل تجارتونه او ګټي یې کولې. په ښارونو کي چې د ډیرو پیسو هره دهوکه بازي کیږي په راس کي یې یو قریش یا یو سادات به مو حتماً د سترګو کیږي. داسي نه ده چې ټول سادات او قریش بد خلک دي، بلکه حقیقت دا دی چې هر بد او کم اصل چې فساد کوي نو د سپر په توګه ځان قریش او ساداتو ته منصوبوي. په صحراوو کي هم دا مافیا ده چې هر یو ورته اړ ښکاري. تر کومه پوري چې د قریشو او ساداتو نړیواله سابقه ده، لنډ معرفت به یې داغه وي چې د هسپانیې څخه نیولې بیا د هندوستان او بیت المقدس پوري چې اسلامي قلمرو غیر مسلمانانو اشغال کړې ده، همدا د قریشو او ساداتو منفي دلالئ دي. دا د حضرتانو او مجددیانو کورنیاني چې په هند کي انګلیس ته په جاسوسي کولو ټولو ته رسوا سوې نو هند یې پرېښودی، افغانستان ته راکډه سوې. قریش او سادات په ټوله نړۍ کي د کرایي جګړه مارانو، مریانو او مینځیانو کاروبارونه پر مخ بیایي. اوس خو د سود څخه هم مخ نه اړوي. هغه کارونه چې شورا نظار یې په افغانستان، پاکستان او تاجکستان کي کوي؛ قریش او سادات د مخفي یهودي سازمانونو سره په شراکت په ټوله نړۍ کي دا کاروبارونه پر مخ بیایي. حاجي آغا چې خپله هم سید دی یوه ورځ ویله چې فساد تل د شریفو خلکو د اولادې څخه پیښ وي ځکه چې د بد سړي اولاد خو اکثراً د شرمه او د ولس د پیغوره کوم بد کار ته لاس نه وراچوي چې خلک دستي وايي چې د ده خو پلار او نیکه لا داغسي بدخلک وه نو دده څخه څه ګیله. موږ ورته ویل چې څنګه؟ ده وویل چې دا نن ورځ د ټولي نړۍ مذهبي، سیاسي او اقتصادي فساد جریان لري یا «یهود»،«قریش» او یا هم د ځینو«سادات» ده. بل څوک خو نه په دین و سیاست کي د لاس وهلو جرات لري او نه هم اجازه. په پای کي یوه بله خبره چې مهمه ده هغه هم دا ده چې په تیرو درو او څلورو لسیزو کي د پیر صاحب او حضرت صاحب مرکزي کورنیاني ډیري بدنامه سوي دي او هغه د پیرانو کورنیاني چې پخوا به د دې دوو کورنیو د ایجنسیو په توګه په ولسوالیو او کلیو کي د خورده فروشي، ځاښتفروشي، تعویذ فروشي او دم فروشي کاروبارونه چلول. اوس مستقل سوي دي او د بهرنیو استخباراتي ادارو سره په اول لاس معاملات کوي، چې دا خبره تر پخوا ډیره خطرناکه ده.

۲. **شورا نظار:** دا هغه ډله ده چې بنسټیزه هسته یې د سقاویانو د پاته شونو څخه سرچینه اخلي د امیر امان الله خان تر زماني پوري د دوئ باندونه دومره پراخ سوي وه چې د کابل ښار د شمالي اطرافي سیمو په سوو لوچګان ور سره تنظیم وه چې بالاخره د انګلیس، ګیلاني او مجددي روحاني کورنیو په لمسون یې سقاوي غمیزه رامنځ ته کړل. د هغه وخت د خلکو څخه داسي قصې هم راپاته دي چې د دې ډلي یوه ښایسته فقیره وه چې د امیر حبیب الله خان زړه یې وړی وو او اخیر هغه واده هم ورسره وکړ چې د امان الله خان د مور او د هغې د قوم سره یې پر دې خبره اختلافات پیدا سول او ځیني وايي چې حتی بالاخره د امیر حبیب الله خان په وژنه باندي منتج سول (والله اعلم). همدا فرقه یوه د هغه فرقو څخه وه چې د اسلامي امت د تضعیف لپاره د مخفي یهودي حلقاتو لخوا پیړی پیړۍ وړاندي تاسیس سوي وې او د روسي کاتهولیکي او اورتهوډوکس مذهبه عیسویانو په لاس د مرکزي آسیا د اسلامي ټولنو تسخیر لپاره یې لاري هوارولې. دا خطرناکه ډله چې د کمونیستي رژیم په زمانه کي یې د روسانو سره کاذبه جګړه او پټه همکاري پر مخ بیول او د هغه تر مخه د شاهي کورنۍ په خدمت کی د پراخ نفوذ خاوندان وه. د همدې روابطو په اساس یې لمړنۍ اړیکي د انګلیس او امریکایي استخباراتي ادارو سره جوړي کړې (د یهودي ډلو، کلیساوو، روس او ایران د استخباراتو سره پخوا لا جوړ وه). د همدې روابطو په وسیله اوس هم د هند، پاکستان، چین او روسیې پوري د قیمتي معدنونو، مخدراتو د قاچاق چاري پر مخ وړي. دې ډلي د خپلو استخباراتي اړیکو او د پراخ نیټورک دلاري د نجیب د نسکوریدلو وروسته خپل فعالیت ته رسمي بڼه ورکړه او دشورا نظار صفحات شمال په نامه یې ځان ته سیاسي تجارتي جواز جوړ کړ. د کابل د دولتي ادارو په شهرګونو کي یې خپل نیښونه ښخ کړل او بیا یې د طالبانو په صفوفو کي هم پراخ نفوذ وکړ. د طالبانو اسلامي تحریک چې د افغانستان د جنوبي پښتون میشتو سیمو څخه یې سرچینه اخیستې وه، د خپل ټول واک په جریان کي یې مخلص پښتانه داوطلبه او جلبي جنګیالي د شمال په نه ختیمدونکې جګړه کي تلف کیدل او د غور، تخار، بدخشان او نورو شمالي سیمو نظاري سیکسورکران د پیښور او کویټې مدرسو ته تلل، هلته یې سبقونه ویل او د آی ایس آی تر سرپرستي لاندي یې د طالب حکومت په تیکنوکراټه طبقه کي ځانونه ځایول. څنګه؟ خور یا لور به یې و ملا مشر اخوند ته وروادہ کړل. ملا مشر اخوند به د نویافته ناوي پلار، ورونه ماماګان، د اکا زامان، د ماما زامن او نیخه د چیشي او چیشي زامن به یې ټول په خپل وزارت یا قومنداني کي په هغه موقفونو کي ځای کړل چې عواید به یې په پیخر وه او خطر به یې هیڅ نه وو. د پښتنو طالبانو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کليو ته به خاص د شهيدانو جنازې وررواني وي او د دوئ تجوريو ته پيسې. اوس د کابل ټيکنوکراټيک نظام عملاً د دوئ په لاس کي دی چي د خپلو غړو، ائتلافيانو، دوهم او دريم لاس قراردادیانو په مټ پرمخ بيايي. دا ډله اوس دومره پياوړې سوې ده چي که يې د يوه پياوړي ملي او نړيوال پاڅون د لاري بيخ يې ونه ايستل سي، د هيواد هر ولس مشر، وزير، جنرال، وکيل، والي، ولسوال، د امنيې قومندان به يا د دوئ لاسپوڅی وي او يا به د جنرال اکرم خاکريزوال، جنرال مطيع الله خان او جنرال رازق په شان په مرموز ډول وژل کيږي.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ